ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

**ڈاکٹر نگینہ بی بی**
لیکچرر، پشتو، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی مردان۔
**ڈاکٹر عبادالرحمان**
لیکچرر، پشتو، گورنمنٹ پوسٹ گریجویٹ کالج تیمرگرہ، دیر لوئر۔

# د پښتو نثرم هېئتي او تاريخي مطالعه

**Dr. Nagina Bibi** *
Lecturer in Pashto, Pashto Department, AWKUM.
**Dr. Ibad Ur Rahman**
Lecturer in Pashto, GPGC Timergara Dir Lower.
***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## Pashto Nasram: A Structural and Historical Investigation

This paper examines Nasram (prose poem) as a modern literary genre in Pashto literature, highlighting its distinctive features, historical origins and development۔ Unlike traditional poetry, Nasram is free from the constraints of balance, rhyme and fixed forms, relying instead on internal rhythm, poetic language, thematic freedom and structural unity۔ The study traces the evolution of prose poetry from its formal emergence in nineteenth-century France through writers such as Aloysius Bertrand, Charles Baudelaire, and Arthur Rimbaud, before its spread into various world languages۔ In Pashto, while earlier individual experiments existed, the genre gained significant recognition after the 2019 "Nawkhatgar" literary movement, which promoted innovative poetic expression and stimulated critical discussion۔ Through the contributions of contemporary writers and critics, Nasram has established itself as an independent and increasingly popular genre, playing an important role in the ongoing modernization of Pashto literature.

**Key Words:** *Nasram (prose poem), Modern Literary Genre, Nawkhatgar, Pashto literature.*

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

عام طور ادبي اصناف مونږ سره پۀ دوه قسمه دی چې يؤ نثري اصناف دي اؤ بل منظوم ۔ هرکله چې د منظومو اصنافو تعين کېږي نو هغه يا خو د موضوع لۀ لارې کېږي لکه حمد، نعت، منقبت، مناجات، مرثيه وغېره اؤ يا خو د هيئت لۀ لارې کېږي لکه غزل، ترجيع بند، ترکيب بند، مسمط، وغېره خو دلته د نظميت بنياد ټول پۀ عروضو دے اؤ هم دا د فيوډل ازم د سماجي اثراتو پېداوار دے ځکه نثرم د اظهار د ازادئ اؤ تخليقي نوښت د پامتدارئ د پاره هر قسمه بندېزونه ماتوي اؤ خپل هيئت د ځان سره پۀ خپله راؤړي ۔ دا خبره فېصل فاران هم کړې ده، وائي چې:

> "نثرم د بې هيئته هيئت (فارم) د دغه صنفي روايت د پاسدارئ پۀ ترڅ د سوچه تخليق پرانستي لار ده اؤ يؤ حواله باندې فوکلور اؤ اساطيري سوچ ته هم ستنېدۀ دي ۔ روايتي اصناف چې ښېخي رسمي شوي دي د فيوډل ازم اؤ کېپيټل ازم د راؤړي نظامونو د نفسيات اؤ اخلاقيات نتيجه دي ۔"[۱]

**د نثرم صنفي شناخت:**

څنګه چې ناول، افسانه، ډرامه وغېره د اول نه کوم مخصوص هيئت نۀ لري چې کله پۀ وجود کښې راشي نو بيا ئې د وجود تعين کېږي ولې د يادو اصنافو څۀ خپل خاصيتونه وي چې د هغې پۀ بنياد د هغې صنفي تعين ممکن وي ۔ دغه رنګ نثرم هم څۀ خاصيتونه لري چې د هغې پۀ بنياد ئې صنفي تعين کېږي ۔

- ترټولو وړومبۍ خبره دا چې نثرم به د مروجه شعري هيئتونو چې بنياد ئې عروض اؤ قوافي وي، نه مکمل انحراف کوي اؤ خپل هيئت به پۀ خپله تشکيلوي ۔
- د يؤ پابند نظم نه د وزن خارجولو سره به هغه نۀ نثرم کېږي بلکې نثرم کښې به د تخليقيت سره سره د لفظونو داخلي اهنګ اؤ معنوي تخليقي ربط هم موجود وي ۔
- نثرم کښې به د سطرونو تقسيم د پابند نظم د مصرعو پۀ شان نۀ وي بلکې هغه هر څنګه شکل اختيارولے شي ۔
- نثرم به د شاعرانه نثر نه پۀ دې بنياد جدا وي چې نثرم به د کلي وحدت حامل وي اؤ د نثري شاعرئ د افهام اؤ تفهيم دپاره سياق و سباق لازمي وي ۔

دې مد کښې د نثرم اؤ فلش فکشن پۀ حواله يؤ تشکيک پېدا کېږي چې هغه افتاب ګلبن د خپل يؤ مضمون موضوع ګرځولې اؤ دغه تشکيک ئې ختم کړے لکه

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

مختصر مختصر افسانه کښې او نثرم کښې لوے فرق څۀ دے نو موصوف ليکي چې:

"د نثرم د نوي نظرياتو پۀ اساس دې سره اتفاق ګران نۀ دے چې پۀ نثرم او 'مختصر– مختصر' کښې بنيادي توپير د دواړو د جدا جدا Narrative convention پۀ بنياد هم دے ۔ ځکه يوه قصه يا افسانه د دې د رسم پابنده وي او نثرم دغه رسم پائمال کوي ۔"[۲]

- د نثرم بنياد د لفظ پۀ شاعرانه اهنګ دے ځکه چې دا صنف د متعين صوتي دائرو پابند نۀ دے ۔ پۀ دې کښې هر قسمه لفظونه ځان جذب کولے شي ولې د معنويت دارومدار ئې پۀ شاعرانه استعمال وي ۔
- نثرم کښې د موضوع هيڅ قيد نۀ شته ۔
- نثرم کښې به د ډائلاګ پۀ ځائے د مونو لاګ انداز وي ۔

نثرم کښې به د کلي وحدت سره سره اجمال هم موجود وي کۀ اختصار نۀ وي خېر دے خو چې اجمال ضرور وي ۔

**د نثرم تاريخي پس منظر:**

د نثرم د تاريخي پس منظر يا صنفي تاريخيت پۀ حقله مشرقي نړۍ کښې خصوصاً بيا اردو ژبه کښې چې د لېنګوا فرېنکا حېثيت لرونکې ژبه ده هغې کښې هم مختلف الخيال نظريات دي، يعنې څوک نثرم د تاريخي بنياد د بنګالي او سنسکرت ناټکونو سره تړي، څوک ئې وېدونو سره تړي او څوک ئې انګرېزۍ ژبې سره ولې يوه ډله ئې فرانسيسی سره تړي ۔ احمد همېش ليکي چې:

"دراصل نثری شاعری کا مآخذ چار وید ہیں"[۳]

دغه بحث کښې وړاندې بيا احمد همېش دې نتيجې ته ځان رسوي چې د سنسکرت اثرات پۀ بنګالی ژبه وو او د بنګالی ژبې د ناټکونو نه چارلس بادلېئر اثر اخستے وۀ او بيا ئې پوئم ان پروز ليکلے ۔ نثرم بنيادي طور د فرانس پېداوار دے او فرانس کښې د دې اغاز د الائسس برټرېنډ نه شوې ده ۔ دې مد کښې فېصل فاران ليکي چې:

"نثرم (پوئم ان پروس) د الائسيس برټرېنډ اختراع وه چې يو انقلابي شاعر او صحافي وۀ د نړي زامت پۀ رنځ مړ وۀ ۔ د هغۀ د نثرمونو مجموعه ۱۸۳۶ کښې پبلشرانو د خپرولو نه انکار کړے وۀ چې دا خو شاعري نۀ ده، اوتې بوتې کيتي بيتي دي ۔

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

دغه مجموعه د هغهٔ د مرګ نه کال پس ۱۸٤۲ کښې د "ګېسپر
ډي لا نائټ" پهٔ نامه خپره شوې وه ـ"[٤]

هر کله چې د الاسیس برټرېنډ نثرمونه پهٔ لاس نهٔ دي راغلي نو مونږ سره وړومبے معلوم شاعر چارلس بادلیئر دے څوک چې د علامت نګارئ د تحریک بنیاد ګزارو کښې وهٔ اؤ نثرم ته ئې ځانګړے صنفي شناخت ورکړو ـ د بادلیئر نه علاوه ارتهر ریمباد نثرم یؤ مشهور اؤ معروف شاعر وهٔ چې د سرریئلسټ تحریک بنیاد ګزار وهٔ ـ د هغهٔ د نثرمونو مجموعه ۱۸۷۵ کښې د "ایلومینېشنز" پهٔ نوم چاپ ده ـ دغسې نور بلها لیکوالان بیا دې صنف ته متوجه شوي ـ اؤ د فرانس نه دا صنف بیا بیا د نړئ اکثرو ژبو ته رسېدلے ـ پهٔ مغرب کښې دا صنف د پیراګراف شکل کښې لیکلے شي ولې مشرق کښې د رن ان لائن پهٔ صورت کښې مروج دے دا صنف عربئ اؤ فارسئ هم خپل کړے اؤ اردو کښې هم د ۱۹٦۰ راهسې لیکلے شي ـ هلته چا د نثري نظم نوم ورکړے چا د نثم چا نظمانے اؤ چا ادب لطیف، چا شعر منثور اؤ چا نثري شاعري خو بهر حال د یؤ جدا صنف پهٔ توګه اوس مقبولِ عام دے ـ

**نثرم پهٔ پښتو کښې:**

پښتو کښې د یاد صنف دوه دورونه جوړېږي چې یؤ د نثري نظم پهٔ نوم لیکلي شوي نظمونه دي اؤ دویم د نثرم پهٔ نوم ـ پهٔ کال دوه زره نولسم کښې د جولائئ پهٔ میاشت کښې پهٔ پښتو ادب کښې څهٔ زلمو د سوشل مېډیا لهٔ خوا د "نوښتګر" پهٔ نوم د یؤ تحریک/خوځښت اغاز وکړو اؤ مقصد ئې دا ښوؤدلو چې پښتو کښې نظم اؤ بیا خصوصي طور د نظم نوي ژانرونه وده وکړي ـ پهٔ دې کښې هغوي د خپل اظهار د مېډیم پهٔ توګه ازاد نظم اؤ نثري نظم وهٔ ټاکل ـ اګر چې نثري نظم د نوښتګرو نه وړاندې هم پښتو کښې لیکلے کېدو خو د تحریک شکل ئې نهٔ وهٔ خپل کړے ـ یعني څو کسانو انفرادي هڅې کړې وې چې هغې کښې د راز محمد راز " اوشین ګاډیز" د هاشم بابر "ورک موندلي" اؤ د محمود ایاز، قېصر اپریدي، رب نواز مائل وغېره پهٔ مختلفو مجلو کښې چاپ شوي نثري نظمونه د یاد وړ دي ـ ولې دې مد کښې ترټولو زیات کوشش د سوات د فضل محمود روښان دے چې د نثري نظمونو درې مجموعې ئې چاپ دي ـ "رنې ملغلرې" پهٔ کال ۱۹۸۸ کښې، "سجیل" پهٔ کال ۱۹۹۳ کښې اؤ "لټون د پوهې" پهٔ کال ۱۹۹۵ کښې شائع شوي ـ د دې ټولو کوششونو حېثیت محض د یوې تجربې وهٔ څکه کوم مقام ئې پیدا نهٔ کړو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

خو هر کله چې دې ته د يؤ تحريک شکل مېلاؤ شو نو دې پۀ ځو کلونو کښې ډېره وده وۀ کړه ۔

د نظم خوځښت نوښتګر نه پس دې ته د فېصل فاران لۀ خوا د نثرم اصطلاح غوره کړې شوه ۔ د دې اصطلاح پۀ ذريعه د خوځښت نه وړاندې اؤ وروستو ليکلو شويو نظمونو کښې د امتياز يوه پوله راکښل دي ۔ پۀ دې حقله سميع الدين ارمان ليکي چې:

> "نثرم اصطلاح کۀ يؤ خوا د خپل نوښت پۀ فطري اساس د لساني تشکيل بېلا بېل امکاناتو ته لارې پرانيزي نو بل خوا د ياد خوځښت انفرادي شناخت جوړولو کښې هم مرکزي کردار لوبولے شي ۔"[۵]

يعني د نوښتګر نه وړاندې د نثري نظم اؤ د نوښتګر نه پس د نثرم خپل خپل امتيازات دي ۔ د نثري نظم پۀ نوم ليکلو شويو موادو کښې کۀ يو خوا د مقدار پۀ حواله هم کمے وۀ نو بل خوا ئې د معيار حېثيت هم کمزورے وۀ ولې د نثرم مقدار اؤ معيار دواړه بسياره دي ۔ بله يوه مهمه خبره د تنقيدي روايت ده ۔ د نوښتګر نه وړاندې د دې صنف تنقيدي مواد د نشت برابر وو ولې د نثرم سره پرې تنقيدي مباحث هم شروع شول ۔ باقاعده د مردان نه د درې مياشتينی فانوس مجلې خصوصي ګڼه شائع شوه اؤ هم دا رنګ د سوشل مېډيا لۀ لارې د نوښتګر غړو مباحثه وۀ کړل ۔ افتاب ګلبڼ د "نثرم: شعريات اؤ نړيواله ارتقاء" پۀ نوم د مقالو مجموعه چاپ کړه اؤ دا رنګ "يوه شپه د خوب پۀ ښار کښې اؤ نور نظمونه"، "اختلاف"، "ادراک" وغېره باندې ليکلي شوي مقدمې هم د دې د تنقيدي روايت برخې شوې ۔

پښتو ادب کښې چې څنګه د ازاد نظم د راتلو سره ځينې ليکوالانو د هغې مخالفت کړے وۀ هم دا رنګ د نثرم هم ځينې ليکوالانو مخالفت کولو چې د مختلفو نوعيتونو وۀ ۔ يعني چا به هډو شاعري نۀ منله، چا به وئيل چې شاعري ده خو نظم نۀ دے، چا به وئيل دوي فحش موضوعات راؤړل غواړي، اؤ چا به محض د نثرم اصطلاح سره اختلاف لرلو چې لويه وجه ئې د دې اصطلاح جوړوونکے فېصل فاران وۀ ۔ يعني پښتو کښې د سفاک تنقيد پۀ مد کښې د بدنامی ترحده د رسېدلي نقاد لۀ خوا دا اصطلاح چا څنګه قبوله کړې وے؟ پۀ هر حال دغو ټولو مخالفينو ته د نثرم حاميانو وخت پۀ وخت جوابونه کړي دي اؤ دا سلسله لا روانه ده ۔ تر دې دمه د نثرمونو مجموعو کښې د فېصل فاران" يوه شپه د خوب پۀ ښار کښې اؤ نور

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 7, Issue 1, (Jan to Feb 2026)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2026(7-I)urdu-26

نظمونه" (دويم چاپ جون ۲۰۲۱ د نثرم د دستخط سره چاپ دے)، د افتاب ګلبڼ "اختلاف" (ستمبر ۲۰۲۰)، د سميع الدين ارمان "ادراک" (دسمبر ۲۰۲۰) چاپ دي
-

د سوشل مېډيا لهٔ لارې هم اؤ د مختلفو مجلو لهٔ لارې هم نن سبا دا صنف مقبولِ عام ګرځېدلے دے - ليکلے کېږی اؤ شايد چې راتلونکي وخت کښې نوره هم وده وهٔ مومي -

### حوالې

۱فاران، فېصل، نثرم: شاليد اؤ مخ ليد، مشموله: فانوس جولائي/ ستمبر ۲۰۱۹ء، مخ ۶
۲ګلبڼ، افتاب، نثرم: شعريات اؤ نړيواله ارتقاء، ډسټ ان بکس، پېښور، اپرېل ۲۰۲۲، مخ ۱۱۷
۳ہمیش، احمد، نثری شاعری کا مآخذ، مشمولہ: نثری نظم، مرتب اویس سجاد، فکشن ہاؤس، لاہور، اشاعت ۲۰۲۲، ص ۱۳۴
٤فاران، فېصل، نثرم: شاليد اؤ مخ ليد،مخ ۷
٥ارمان، سميع الدين، نړيوال تنقيدي معيارونه، مفکوره، پېښور، جون ۲۰۲۰، مخ ۱۰۹